غلام حضرت ۲۰۱۸/۰۳/۱۸

# نوروز د تحجر تر ساطور لاندی

مخکی لدې چه په اصلی بحث پیل وکړم غواړم دوه درې(زما په نظر مهم) ټکی خپلو ګرانو ورونو ته وړاندی کړم.

زه خپله د نوروز موروز حقانیت ته کومه خاصه عقیده نلرم خو د انسانی او وطنی انګیزې له مخی هر هغه څه راته محترم دی کوم چه زما ګران هیواد وال او نور سالم بشریت ئې په ترسرکولو او لمانځلو د خوښی احساس کوی.

زما بحث د نوروز په هکله د سلفیانو او وهابیانو سره د جدال بنه نلری بلکه یو عمومی - انسانی- ټولنیز بحث دی، سلفیان ځکه یادوم چه هغوی د نوروز د تحریم! په باب څه چه حتی د میلاد النبی(ص) د لمانځنی سره مخالفت لری چه پدې صورت کی د سلفی او وهابی سره بحث د وخت ضیاع ده.

زه خپله د روحانی قشر مجموعي ته خاص درناوۍ لرم او یو روحانی د ټولنی د معنوی چارو د سمبالوونکی پتوګه ګنم البته نه هر مُلا او نه هر روحانی بلکه هغه روحانی چه د خپلی ټولنی او خلکو د ژورو او پراخو دردونو د درک او احساس استعداد ولری، د ظلم او اجتماعی مفاسدو او تحجر په وړاندی د یوې زړوری مبارزې او مقابلې روحیات ولری، د ټولنی د سیاسی- اجتماعی- فرهنګی رهبرانو سره اوږه په اوږه د ټولنی او ؤلس د هراړخیزو دردونو د علاج په لټه کی وی د زمانی او مکانی شرائطو سره سم د قرآن او نبوی ارشاداتو د صحیح تأویل او تفسیر قدرت ولری.

هغه دینی عالم! چه پخپلو فتواوو یو  مسلمان یو غیر مسلمان ته د یوې هګۍ په ورکړه د اسلام له دائرې باسی هغه دینی عالم! د سبحانه تعالی د بې پایانه رحمانیت او رحیمیت او د پاک احمد د بې پایانه کریمیت څخه بې خبره یا احتمالاً منکر دی.

امام غزالی په احیای علوم الدین کی لیکی چه نَه نِوی کبیره ګناهونه د یوې مخلصانه کلمهٔ طیّبه په ویلو زائل کېدای شی، نو څنګه ممکنه ده چه یو مسلمان د یوې کوچنۍ ګناه( د مُفتی صاحب په مُفته او له خېټی راوتلې په حُکم) د اسلام له چوکاټه ووځی.

## امّا اصلی موضوع:

دا دنیا او دا عالمیان د "رب العلمین" خلقت دی، ټول مخلوقات د سبحانه تعالی په ید بلا کیف او اراده پیدا شویدی، ټول انسانان له فرهنګی او عقیدتی نظره پر یوه لیاره ندی روان، هره ټولنه څه د یو هیواد په سطحه او څه د یوې



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

لوئي وچې په سطحه او څه د یوه نژاد او قوم او یا سیاسي- فرهنګي – عقیدتي - دیني- مذهبي جغرافیا له نظره ځانو ته مستقلې لیارې غوره کړېدې چه البته دلته زما د بحث مقصد د ډول ډول عقائدو د حقانیت ثبوت ندی بلکه فقط غواړم

## ووایم چه:

د نړۍ د مختلفو هیوادونو خلګ د ډول ډول جشنونو او اخترونو درلوونکي دي،

د بشري ټولنو ځینې جشننونه او اخترونه یا ملي وی یا فرهنګي وی یا مذهبي وی یا سیاسي او تاریخي وی یا نژادی او قومي وی یا مثلاً طبیعي وی یعني د طبیعت او موسم او فصل سره مستقیمه رابطه لري.

بعضې مذهبي اخترونه او لمانځنه ئې د زماني په تېرېدو اصلاً مذهبي شکل او محتوا له لاسه ورکړې او فقط یوه فرهنګي بڼه ئې ځانته غوره کړېده، مثلاً د اروپا اتیا فیصده وګړی ملحدین او هیڅ مذهب ته عقیده نلري خو د عیسوی کال جشن په ډېرو شاندارو مراسمو لمانځي حتی د کلیسا تر مُلا همدا ملحد د نوی کال په شپه پورته پورته غورځي.

یوازې غیر مسلمانه ټولنه لدې خصلت څخه نده برخمنه بلکه حتی اسلامي ټولنې هم غالباً مذهبي مسائلو ته د فرهنګي چارو په سترګه کتلي دي او ګوری مثلاً:

د اخترونو په لمونځونو کې پاچا ا او وزیر او رئیس او امیر او مدیر او مامور په رسمي توګه ګډون کاوه او کوی ئې چه البته اکثرو رئیسانو او وزیرانو تر لمانځه وروسته( هغه هم شاید څو ورځې وروسته اودس تازه کړی وی) ،دې د اختر لمونځونو ته په صافه مذهبي سترګه ندی کتلي شوی بلکه د یو عمومي فرهنګ پتوګه ورته کتل شویدی.

څه کم پنځوس کاله مخکې کله چه به زه د پلار سره د عیدګاه پر لیاره د اختر د لمانځه پخاطر روان وم، د کور څخه تر عیدګاه پورې به څو ځایه تر سترګو شوه چه مثلاً یو چا به د قمار ټاټ غوړولی ؤ چه البته ځینې ځوانان به لګیا وه.

## امّا نوروز:

د نوروز د تاریخ په هکله ډغرو ته اړتیا نشته، مهمه نده چه یوه شو چه نوروز په کومه ورځ او د چا له خوا پیل شو بلکه مهمه داده چه ومنو چه:

نوروز زموږ د هیواد او سیمې د اکثرو خلګو په فرهنګي رګونو کی خاص ځای لری چه د محبوبیت علت ئې شاید د طبیعت او فصل سره د نوروز مستقیمه اړیکه ده.

قرآن هم اشاره کړیده، کون او مکان او فلک او څرخ او د کال فصلونه ټول الهي آیات او نبښې دي پدې مسائلو کې تفکر او تدبر او تعقل د ایمان د قوت سبب دی.

د نوروز لمانځنه د مجوس! او زردشت او کوم بل دووس د کړنو او افکارو او عقائدو سره هیڅ ارتباط نلري بلکه دا یو مستقل فرهنګي رواج دی چه له پیړیو پیړیو را پدیخوا زموږ خلګو ته په میراث رارسېدلی دی چه لمانځنه ئې هیڅ ډول دیني ممانعت نلري.

هغه څوک چه په مذهبی انګېزه د نوروز د لمانځنی دښمن او مخالف دی نو لطفاً دی زما حقیر دا لاندی پوښتنو ته منطقی ځواب ووائي:

زموږ د سیمی خلک پنځلس پېړی مخکی طوعاً یا کرهاً په اسلام مشرف شوه، که په زور مسلمان شوی وی (چه احتمال ئي تقریباً صفر دی) نو ولی هغه وخت د اسلام د مبلغینو لخوا (چه حتماً د ډېر زور او قدرت څخه هم برخمن وه) د نوروز د لمانځنی څخه ندی منع کړه شوی او که پخپل رضائیت او خوښه په اسلام مشرف شوی وی نو د اسلامی ارزښتنو د تحفظ او تحکیم تر څنګ ئي د نوروز فرهنګی ارزښت هم ساتلی دی چه نتیجتاً په ګډه دا حقیقت منل شوی ؤ چه د نوروز لمانځنه د اسلام د نورو ارکانو د اجراء تر څنګ هیڅ ډول تناقض او ټکر ندی احساس شوی.

آیا د نوروز لمانځنه په مجوسی! انګېزه ترسره کېده او تر سره کیږی او که صرف په طبیعی انګېزه؟ ښکاره خبره ده چه نوروز په طبیعی او بهاری انګېزه تر سره کیږی، د یوې خوا د لمریز کال پیل دی او له بلی خوا زموږ په اقلیمی جغرافیا کی د پسرلی د ښکلی موسم پیل وی چه هر ژوندئ ځیز د یو ډول نوی ژوند د پیل د خوښیو احساس کوی، مالداری او کرنه د ښکلی او حاصل ورکوونکی ځپو زیری ورکوی او حد اقل اقتصادی ښې هیلی د نڅا په حال کی وی.

هغه څوک چه زموږ په هیواد کی نوروز لمانځی اکثریت وګړی ئي د اسلام مبین دین او ارکانو ته سخت متعهد دی، هم لمونځ کوی هم روژه نیسی او هم ذکات ورکوی او هم حج ته ځی او هم نور ښه کارونه کوی، دا به د سبحان و تعالی لاینتهائي کرم ته د شک او ریب په سترګه کتل او بې ادبی وی چه د یو چا ټول وجود یوه ټوټه ایمان او عمل وی خو فقط د یوه نوروز د لمانځنی پخاطر مشرک وګڼل شی.

## اصلاً بله خبره:

د نبی علیه السلام د یوې لنډی فرمودې سنګینی تر ټولو موجوداتو ارزښتناکه ده هغه فرموده داده چه: ټول اعمال په نیت پوری اړه لری.

پورته فرموده ظاهراً یوه ساده خبره ښکاری خو په حقیقت کی دا فرموده د جنت او جهنم د سرحد او پولی د ټاکنی یو پوخ سند دی.

موږ باید مطمئن اوسو چه زموږ د خلګو نیت او انګېزه د نوروز د لمانځنی څخه د پخوانیو منسوخو او بعضاً مزخرفو افکارو او عقائدو تائید او ملاتړ ندی بلکه نیت ئي د نوروز د لمانځنی څخه فقط او فقط د یو ډول فرهنګی- تاریخی- طبیعی تندی ماتول دی او بس.

همدا د نوروز لمانځوونکی که د نوروز په ورځ جشن نیسی او خوښی کوی په همهغه اندازه او پیمانه او شوق او ذوق او مینه د اخترونو او میلاد النبی (ص) لمانځنه او یا مثلاً عاشورا د ورځی غندنه هم کوی، البته منظور می د عاشورا څخه هغه اسرائیلیات ندی کوم چه زموږ ځینی علماء ئي په ډېر قاف او لام بیانوی بلکه د عاشورا څخه می مقصد د امام حسین وژنه ده.

په هر حال زموږ ځینی دینی علماء نباید د نوروز لمانځنی ته دومره د کراهت په سترګه وګوری او خلک دی پرېږدی چه خپلی ځینی عنعنوی خوښیانی په آزاده او سالمه فضاء کی تر سره کړی، د نوروز لمانځنه د ایمان د درختی پر ثمر هیڅ سوء او بده اغیزه نلری او نه دا کوم شرک او کړیه عمل دی البته د ایمان او عفت او عزت خلاف عمل په هیڅ کومه ورځ که اختر وی یا ملی جشن او یا نوروز او یا کومه بله ورځ هیڅ جواز نلری.

## وروستی او مهمه خبره داچه:

د بعضی مراسمو د لمانځنی اهمیت د یوې ټولنی د وګړو په پوست او غوښه او هډوکی او وینه کی مرسوب شوی دی هیڅ څوک به دا قدرت ونلری چه په وچ زور دا فرهنګ د خلګو څخه سلب او غصب کړی، شاید د زور له لیاری ظاهراً ددې لمانځنو د مخنیوی قدرت ومومی خو پدې به ونه توانیږی چه د خلګو د روح او زړونو څخه دا څیز لیری کړی لکه څنګه چه مارکسیزم او وهابیزم ونه توانېده چه د خلګو د ژورو عقائدو د بدلون توفیق تر لاسه کړی بناً زما حقیر توصیه داده چه زموږ ځینی علماء نباید پخپلو نفسانی فتواګانو ددې ډول مباح اعمالو د مخنیوی هڅه وکړی.

ماته ډېره ځوروونکې ده چه یو د دین عالم په ډول ډول منفی مهارتونو او طفلانه توجیهاتو هڅه کوی چه نوروز حرام ثابت کړی خو د ډېرو اجتماعی ناخوالو او معاضلاتو چه د ایمان د تضعیف او ټولنی د فساد سره مستقیم ارتباط لری پټه خوله دی، مثلاً:

نوروز به په کال کی یوه یا دوې ورځی لمانځل کیږی (چه البته هیڅ ربښتینی دینی عالم به د نوروز د حرمت د ثبوت توان ونلری) خو د قرآن او نبوی ارشاداتو په خلاف زموږ په ټولنه کی هره ورځ او هره شېبه د یوې کونډی او پېغلی او یتیم مسلّم حقوق تر پښو لاندی کیږی خو علماء ورته په پټه او رضامنده خوله ورته ګوری، عجبه ده،

د کونډی او پیغلی خدای ورکړی حق د پښتنی!!! دود او رواج د درنښت!!! په سیوری کی هره ورځ تر پښو لاندی کیږی خو د نوروز دود او رواج ته د تکفیر په سترګه کتل کیږی.

**پای**